
Preview (1 / 10) - ketabton.com

وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا

# تيسير التجويد للمبتدئين

## آسانه تجويد دابتدايي شاګردانو لپاره

## پښتو




مؤلف، قاري عبدالمنان حنظله وفا ابن ملاشيرين

المدرسة الاسلامية دارالتجويد والقراءات

Preview (2 / 10) - ketabton.com



بسم الله الرحمن الرحيم

وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

قَالَ عَلِيٌّ رضي الله عنه : اَلتَّرْتِيْلُ هُوَ تَجْوِيْدُ الْحُرُوْفِ وَمَعْرِفَةُ الْوُقُوْفِ

وقال الامام محمد ابن الجزري رحمة الله عليه

والاخذ بالتجويد حتم لازم ... من لم يجود القرآن آثم

**د تجويد تعريف:**

تجويد پـه لغت كې ښـه جوړولو تـه وايي (تَحْسِيْنُ الشَئْ)

اوپه اصطلاح كي هغه علم ته وايي چې په هغه كې دحرفونو، مخرجونو، صفتونو، اوله هغو قواعدو، څخه چې دهغو په مراعات سره قرآنكريم په صحيح توګه لوستل كيږي بحث كيږي.

**موضوع د تجويد:**

دهجا توري اوقواعد دي

**غرض دتجويد:**

په صحيح توګه دقرآنكريم لوستل چې د الله ج د رضا سبب وګرځي.

## حركات تنوين (نښې اوسمبولونه)

فتحه(ـــَــ)ضمه(ـــُــ)كسره(ـــِــ) سكون(ـــْــ) شد (ـــّــ) دوه زوره ، دوه زيره ، دوه پيښه (ـــًٍـٌـ)

ولاړ زور (ـٰـ) ولاړ زير (ـ') ولاړ پيښ (-,-) متصل مد (ـٓـ) منفصل مد (آ)

په عربي ژبه كې دالفبا توري (حروف) ټوله (۲۹) دي اوله دريو ځايونو څخه اداكيږي.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | ت | ث | ج | ح | خ | د | ذ | ر |
| ز | س | ش | ص | ض | ط | ظ | ع | غ | ف |
| | | | | | | | | | |
| ق | ک | ل | م | ن | و | هـ | ء | ي | |

Preview (4 / 10) - ketabton.com



کوم حروف چې ټکي لري هغوته معجمه وايي اوچې ټکي نلري هغوته مهمله وايي.

۱.حلق. ۳ مخرجونه لري او ۶.توري ورڅخه اداکیږي (ءهـ)آخر دحلق څخه، (ع ح) منځ دحلق څخه او (غ خ) سر دحلق څخه (دخولې له خوا لومړی ځای) آداکیږي

۲. ژبه: ۱۸ توري ورڅخه آداکږي.

۳. شونډې ۴ مخرجونه لري. (ب م و)

تنوین:

په لغت کې دنون آواز ورکولو ته وايي اومقصد د هغه نه نون ساکن دی، چې دکلماتو په آخر کې ویل کیږي خو لیکل کیږي نه او دهغه پرځای ـً ـٍ ـٌ علاماتو څخه کار اخستل کیږي.

**غاښونه :** دیونورمال انسان په خوله کې ۳۲ غاښونه وجود لري چي ۱۶ په بره زامه کې او۱۶ په ښکته زامه کې موجود وي او پر ۴ برخو وېشل شوي دي

۱.ثنایا :۴ مخکني غاښونه دي، چي دوه بره زامه کې اودوه کښته زامه کې وجود لري:

۲. رباعي: ۴ غاښونه دي، دوه بره زامه کې اودوه کښته زامه کې دثنایا ښي اوچپ طرف ته واقع دي

۳. انیاب: ۴ غاښونه دي، دوه بره زامه کې اودوه کښته زامه کې درباعي غاښونه ښي اوچپ طرف ته واقع دي،اوتیرې څوکې لري ځکه ورته کواسر وایي،

۴. اضراس: ۲۰ غاښونه دي، په ۳ برخو وېشل شوي

Preview (5 / 10) - ketabton.com



۴ ضواحک | 12 طواحن | ۴ نواجذ (عقل دندان ) ځنې خلګ یی نلري

## دنون ساکن اوتنوین حکمونه:

1. اظهار
2. ادغام
3. اقلاب
4. اخفاء

اظهار:

په لغت کې ښکار کولو ته وایي

اود تجوید دعلم په اصطلاح کې جدا کولوته وایي جې هریو توری باید جدا اوښکاره ولوستل شي،

کله چې دنون (نْ) ساکن یا تنوین (ـًـٍـٌ) وروسته ۶ حلقي توري راشي اظهار صورت نیسي

Preview (6 / 10) - ketabton.com



حروف حلقي دادي (ءهـ ع ح غ خ)

يا: نون تنوين يا نون ساكن څخه وروسته چې كله حروف حلقي راشي. دلته به نون آواز ښكاره كيږي

(اظهار كيږي)

اظهار مثال مِنْهُمْ اوداسي نور....

ادغام: داخلولو ته وايي.

اود تجويد دعلم په اصطلاح كې داخلول دي ديوتوري په بل توري كې په داسې شيان سره چې ددواړو نه يوشد لرونكى تورى جوړ شي.

ادغام ۶ توري لري (ى رم ل ون) چي مجموعه يې يرملون راځي. ادغام مثال مَنْ يُّفْسِدْ

لنډ طريقه: كله چي دنون ساكن اويا (ن تنوين) وروسته داتوري راشي ادغام كيږي.

ادغام ډولونه : ادغام دغنې له لحاظه په دوه ډوله دى.

۱.ادغام بلاغنه (ادغام بغير دغنې): كله چي دنون ساكن يا نون تنوين څخه وروسته (ل ر) راشي.

مَنْ لَّمْ نون ساكن وروسته (ل) راغلى

۲.ادغام مع الغنه (ادغام سره دغنې): كله چي دنون ساكن يا نون تنوين څخه وروسته (ى م ن و)راشي.

عَنْ نَّفْسٍ (نون ساكن وروسته (ن) راغلى.

Preview (7 / 10) - ketabton.com



**ادغام خاصیتونه:** نْ او تنوین( ـًـٍـٌ )داولي کلمي په آخره کي، اود یرملون توري د دوهمي کلمې په سرکي راځي دلته ادغام صورت نیسي:

۲.کله چې په یوه کلمه کې راشي، ادغام پر ځای اظهار مطلق صورت نیسي اوداپه ټول قرآنکریم کې ۴ځایونو کې راغلي دي.

۱.فِيْ الدُّنْیا، ۲.قِنْوَان، ۳.صِنْوَان، ۴.بُنْیَان،

۳.ادغام همیشه په دووکلمو کې صورت نیسي،

**ادغام په درې ډوله دي**

۱. **ادغام مثلین:** چي دوه یوشان توري تکراري شي، اول ساکن اودوهم متحرک وي مثلاً: اِذْذَّهَبَ

۲.**ادغام جنسین:** چي دوه داسې توري چي دیو مخرج نه آداکیږي تکراري راشي، چي اول ساکن او دوهم متحرک وي، مثلاً بَسَطْتَّ، اَثْقَلَتْ دَّعَوَاللهَ...

۳.**ادغام متقاربین:** چي دوه قریب المخرج توري یو په بل پسې راشي، چي اول ساکن اړدوهم متحرک وي. مثلاً: قُلْ رَّبِّیْ ،نَخْلُقْکُّمْ...

**اقلاب:** په لغت کې بدلولو ته وایي.

اودتجوید، دعلم په اصطلاح کې هرکله چي دنْ یا ـًـٍـٌ څخه وروسته د(ب) توری راشي، نْ اوـًـٍ په (م) باندې بدلوي. مثلاً: مِنْ م بَعْد...

Preview (8 / 10) - ketabton.com




## اخفاء:

اخفاء په لغت کې پټولو ته وايي.

اود تجويد دعلم په اصطلاح کې هرکله چي د نون ساکن نْ يا تنوين ـــًـــٍـــٌ ځخه وروسته ادغام، اظهار، اواقلاب، دتورنه علاوه باقي ۱۵ توري راشي اخفاء صورت نيسي. اخفاء د ادغام اواظهار منځني حالت ته وايي.

کله چي دنون ساکن يا تنوين ځخه ورسته داتوري راشي نواخفاء بيا دوه ډوله کيږي.




## دميم ساکن ۳ قاعدي

۱ـ**ادغام:** کله چې ساکن ميم وروسته بل «م» راشي، اول «م» په دوهم «م» کې مدغم کيږي. مثلاً: وَلَكُمْ مَّاكَسَبْتُمْ

۲ـ**اخفاء:** کله چې دساکن ميم ورسته «ب» راشي، «م» پټ لوستل کيږي مثلاً دَخَلْتُمْ بِهِنَّ

Preview (9 / 10) - ketabton.com



**۳.اظهار:** کله چې دساکن میم وروسته د«م اوب» څخه بغیر نورتوري راشي. مثلاً: فَهُمْ فِيْهِ

دې درې واړوته په وارسره ادغام شفوي، اخفاء شفوي، اواظهار شفوي وايي.

## مد:

مد په لغت کې اوږدولو/ کش کولوته وايي

اود تجوید د علم په اصطلاح کې کش کول د آواز دي ترمد تورو پورې، د يوالف څخه تر درې الفو پورې، چې يو الف درې حرکتونه لري.

د مد توري ۳ دي، واو، الف، اوياء، مجموعه يې «وای» راځي.

دوي ته هغه وخت د مد توري ويل کيږي، چې کله ساکن وي اودمخکيني توري حرکت يې دخپل جنس څخه وي. لکه: وْ ساکن مخکې (ـُ)، او(اْ) ساکن (ـَ)، او ئْ ساکن مخکې (ـِ) وي

چې دتېولو مثال په دغه يوه کلمه کې راغلی: نُوْحِيْهَا او يا أُوْذِيْنَا

## مد ډولونه:

۱.مد طویل (اوږد مد) چې د مد د تورو وروسته دمد سبب همزه راغلې وي مثلاً: أُولٰئِك

۲.مد قصیر (لنډ مد): چې د مد د تورو وروسته د مد سبب همزه نه وي راغلې مثلاً: شِقَاقٍ

Preview (10 / 10) - ketabton.com



**نوټ: اوږ مد ۱۱ ډولونه لري. اولنډ مد ۴ ډولونه لري.**

**اوږ مد ډولونه:**

۱.مد متصل

۲.مد منفصل

۳.مد عارضي

۴.مد لازمي

۵. مد صله کبرىٰ

۶. مد فرق

۷. مد مثقل کلمي

۸. مد مثقل حرفي

۹. مد مخفف کلمي

۱۰. مد مخفف حرفي

۱۱. مد لین

لنډ مد ډولونه

۱.مد بدل

۲. مد عوض

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/REQcBgv74Z4

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.